مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د غويي څلورمه | د ۲۰۱۹ د اپرېل ۲٤مه | دويم کال| ۳٦۹مه گڼه

# د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون راپور؛

## تېر کال تر لسو زرو ډېرو ملکي افغانانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده


© Noorullah Shirzada/AFP/Getty Images
۳

## کتاب


۴ مخ

### د عادت ځواک




په تړوله کې دغه کتاب د بدو عادتونو په پرېښودلو کې درسره مرسته کوي او د هغو عادتونو د خپلولو سپارښتنه درته کوي، چې تاسې ته رښتيني خوشالي درکوي.

### په ننگرهار کې د منځ ويالي کانال رغنيزې چارې بشپړې او گټې اخيستنې ته وسپارل شو



د ننگرهار د کامې ولسوالۍ اړوند د منځ ويالې د اوبولگولو کانال، رغنيزې چارې بشپړې او گټې اخيستنې ته وسپارل شو.

د ننگرهار د کرنې رياست چارواکو ويلي، چې د اوبولگولو دغه کانال ۷۰۰ جريبه کرنيزه ځمکه خړوبوي او ۱۰٦ کورنۍ ورڅخه هر اړخيزه گټه پورته کوي.

د اوبولگولو د ياد کانال د رغولو ټوليز لگښت ۵.۹ ميليونه افغانۍ دی، چې د کرنې وزارت په کرونده کې د اوبو د تنظيم پروژې (OFWMP) له خوا ورکړل شوی دی.

د دغه کانال په رغولو کې د سيمې ځينو اوسېدونکو ته د کار زمينه هم برابره شوې ده او ترڅنگ يې ۴۰ سلنه د اوبو له ضايعاتو مخنيوی هم شوی دی او دغه راز به ورسره د هغو ځمکو کرنيز محصولات هم ۲۵ سلنه لوړ شي، چې د دغه کانال له لارې خړوبېږي.

### د افغان سولې په اړه د چين، روسيې او امريکا توافق

۲ مخ

### نالوستي ليکونه

۲ مخ

### د ملکي تلفاتو بې ساری ډېرښت

۳ مخ

## د افغانستان په تړاو د روسيې، امريکا او چين ترمنځ درې اړخيزه غونډه دا ځل په مسکو کې جوړېږي

د افغانستان په تړاو د روسيې، امريکا او چين د ځانگړو استازو دويمه گډه غونډه په مسکو کې جوړېږي.

په کابل کې د روسيې سفارت له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې په دې غونډه کې به د افغانستان لپاره د روسيې ځانگړی استازی ضمير کابلوف گډون وکړي.

سرچينې د غونډې د نورو گډونوالو په اړه څه نه دي ويلي، خو د امريکا د بهرنيو چارو وزارت له خوا په يوه خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې د افغان سولې لپاره د امريکا ځانگړی استازی زلمی خليلزاد دا ځل مسکو ته هم سفر کوي. د روسيې سفارت په خبرپاڼه کې راغلي، چې په دغه ناسته کې به د افغانستان پر وروستيو حالاتو، په دوحه کې د طالبانو او امريکا د مذاکراتو او په افغانستان کې ملي پخلاينې په اړه خبرې کېږي.

مسکو ويلي، د دغې درې اړخيزې ناستې په پای کې به يوه گډه اعلاميه هم خپره شي.

سرچينې زياته کړې چې دا ناسته د افغان سولې په تړاو کومه نوې طرحه نه ده، بلکې دا د هغو هڅو برخه ده چې د افغان سولې په تړاو لوی نړيوال طاقتونه يې کوي او په دغه برخه کې مرستندويه رول ترسره کوي.

### له افغانستانه مو د ځواکونو وتل په سولې پورې تړلي دي



۵ مخ

### د انټرنېټ په موجوديت کې لاهم د کتاب لوستلو دود ژوندی دی



د اپرېل ۲۳مه چې د کتاب له نړيوالې ورځې سره برابره ده، چې د افغانستان په گډون په ډېرو هېوادونو کې تېره ورځ ونمانځل شوه. د کابل ښار کتابپلورنځيو ته په دې ورځ ډېر ځوانان، محصلين او د پاخه عمر کسان ورغلل او د خپلې خوښې کتابونه يې وپېرل.


دغو کتابپلورنځيو ته راغلو کسانو ويلي، چې د انټرنېټ له نړۍ سربېره ډېر محصلين او ځوانان کتابپلورنځيو ته ورځي او د کتاب لوستلو فرهنگ لا ژوندی دی.

په کابل ښار کې د اکسوس او دانش خپرندويه ټولنو ترڅنگ، ډېر نور کتابپلورنځي موجود دي، چې هر کال د کتاب نړيوالې ورځې لپاره په خپلو بيو کې تخفيف راولي.

دوی ويلي چې له مطالعې سره د خلکو د لېوالتيا زياتوالي او د کتاب لوستلو دود ژوندي ساتلو لپاره هڅه کوي، چې د کتابونو د پلور په برخه کې ځانگړی تخفيف ولري.

په کابل کې د اکسوس کتابپلورنځي مسوول صفي الله ناصري په دې اړه ويلي: «کله چې د کتاب نړيواله ورځ وي، عموماً کله چې اکسوس خپل فعاليت پيل کړی دی، له هماغې لومړۍ ورځې تر ننه هر کال موږ د کتاب نړيواله ورځ نمانځو او د دغې ورځې د استقبال په خاطر موږ ځينې ابتکارات کوو او د خپلو مشتريانو لپاره ځانگړي تخفيفونه په پام کې نيسو».

په افغانستان کې د کتاب ورځې د نمانځنې لپاره د حکومت له خوا کوم خاص پروگرام نه دی نيول شوی، بلکې په خپله ډېری افغانان د مطالعې دود د ژوندي ساتلو لپاره هرکال په دې ورځ کتابونه رانيسي او مطالعه کوي يې.

SHIGAL ENGLISH ACADEMY
2019


Easy English Learning With Shigal
9696 98 789 (0) 93+
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.
Shigal English Academy
www.shigal.edu.af

## دریځ

### د افغان سولې په اړه د چین، روسیې او امریکا توافق

په کابل کې د روسیې سفارت وایي، د راتلونکې پنجشنبې په ورځ به مسکو د افغان سولې په تړاو د روسیې، امریکا او چین هېوادونو کوربه وي. له یاد سفارته د خپرې شوې اعلامیې له مخې، په دغه درې اړخیزه ناسته کې د افغانستان لپاره د یادو هېوادونو ځانګړي استازي ګډون کوي. ټاکل شوې چې په دغه غونډه کې د افغانستان پر روانو حالاتو، په دوحه کې د امریکا او طالب استازو ترمنځ پر خبرو او دغه راز د افغانستان د ملي پخلاینې پر بهیر هم خبرې وشي.
په روسیه کې د افغان سولې په تړاو دا غونډه خورا مهمه ده. افغانستان د وروستیو کلونو ستړې جګړې د دغو هېوادونو د ګټو د ټکر له امله وې. که څه هم واړه سیمه ییز لوبغاړي هم شته، خو سترو هېوادونو په افغانستان کې ټکر کړی او همدلته یې هڅه کړې چې یو بل ته کندې وکیندي. که پرون د شوروي اشغال او پر وړاندې یې د افغان ولس مقاومت و او که نن د امریکا اشغال او پر وړاندې یې جګړه ده، د سترو قدرتونو رول او ګټې پکې نه شو هېرولی. امریکایي څېړنیز مرکزونه او نور څېړونکي واضح وایي، چې افغانستان ته د امریکا د راتګ یو اساسي دلیل په منځنۍ اسیا کې روسیې ته سرخوږی جوړول او د چین محدودول دي. دا چې دغو هېوادونو د امریکا پر وړاندې څومره غبرګون ښودلی، جلا بحث دی، خو ورو ورو د دغو هېوادونو په ځانګړي ډول روسیې او امریکا ټکر واضح کېږي. اوس چې دغه هېوادونه سره کښېني، خبرې کوي او د افغانستان په تړاو د نظر یووالی رامنځ ته کوي، نو دا له شک پرته د افغانستان له سولې او ثبات سره مخامخ مرسته کوي.
له بله اړخه د سترو هېوادونو ترمنځ د افغانستان پر سر توافق سیمه ییز واړه لوبغاړي هم اړ کولی شي، چې د افغانستان له سولې او ثبات سره مرسته وکړي. که امریکا، روسیه او چین درې واړه له پاکستان څخه په جدي ډول وغواړي، چې په افغانستان کې جګړې ته لمن ونه وهي، نو له شک پرته چې پاکستان به بیا دا جرأت ونه کړي. همداسې که روسیه او چین له ایران څخه وغواړي چې په افغانستان کې د جګړې پر ځای له سولې او ثبات سره مرسته وکړي، نو ایران به اړ شي چې له سولې او ثبات سره مرسته وکړي. اوس ستونزه دا ده چې ستر قدرتونه په ټکر کې دي او سیمه ییز لوبغاړي هم له سترو قدرتونو سره په ګډه د خپلو ګټو لپاره جګړې ته لمن وهي. سیمه ییز لوبغاړي خپل اهداف هم لري، خو له دې امله چې ستر قدرتونه ترې د جګړې غوښتنه کوي، نو ځکه دوی په ډاډه زړه دې جګړې ته زور ورکوي.
داسې ښکاري چې امریکا د افغانستان له لارې چین او روسیې ته هغه ګواښ نه شي رامنځ ته کولی، چې غوښتل یې. له بله اړخه روسیه په افغانستان کې د داعش له وېرې د امریکا د ماتولو فکر هم کمزوری ګڼي، نو ځکه غوره ګڼي چې په افغانستان کې یو ګډ توافق رامنځ ته شي. دا ګډ توافق چې که پایله یې سوله او امن وي، د دریو واړو هېوادونو ترځنګ، د افغانستان په ګټه هم دی او پکار ده چې پوره ملاتړ یې وشي.

# نالوستي لیکونه



لیکنه: عبدالباري جهاني - وروستۍ برخه:

### د امیر حبیب الله خان خپلوان او کورنۍ

د انګرېزانو استازی د مې د شپږمې په رپوټ کې لیکي: «یو هندو مامور چې له دوولسو کلونو راهیسې یې په ګمرک کې د میاشتې په شل روپۍ تنخوا کار کاوه، د ډېرو زیاتو پیسو په اختلاس تورن شو. د تحقیقاتو په نتیجه کې معلومه شوه چې هغه اووه سوه روپۍ اختلاس کړې دي. امیر ته د دې قضیې په باره کې رپوټ ورکړل شو. امیر وویل چې هندو دې په توپ کې والوزول شي. د امیر د حکم له اعلانېدو سره سم، هندو کلمه وویله او مسلمان شو. امیر خپل امر بېرته را وګرځاوه. البته هندو له کاره برطرف شو او امیر د میاشتې لس روپۍ تنخوا ورته مقرره کړه چې خپله ورځنۍ ګوزاره پرې وکړي».
که څه هم چې زه یقین لرم د امیر حبیب الله خان په سلطنت کې به تر دې ډېرې ناشودې پېښې شوې وي، خو دا دوې قضیې د هغه د ټول عدالت د معرفي کولو ښه مثالونه کېدلای شي. دوه ځوانان د برېټانیې د نمایندګۍ له یوه مامور سره د خبرو کولو په تور چې ثبوت یې هم موجود نه دی، وژل کېږي او امیر د دې پر ځای چې د قضیې بازخواست وکړي، کوتوال ته وایي چې دا قضیه خاموشه کړي. طبیعي خبره ده چې د ځوانانو د پلار لپاره د عدالت غوښتلو بله لوړه مرجع نشته او باید چې فقط خدای ته صبر وکړي. دې ته ورته قضیې د امیر عبدالرحمان خان په زمانه کې ډېرې زیاتې پېښېدلې او د امیر حبیب الله خان په زمانه کې یې هم مثالونه کم نه وو. پر یوه غریب او بې کسه هندو باندې چې د میاشتې په شل روپۍ تنخوا نوکر دی، د ۷۰۰ روپیو د اختلاس په ګناه په توپ کې د الوزولو حکم کېږي او هغه له مجبوریته له خپل مذهب څخه تېرېږي؛ مګر له مستوفي محمدحسین خان څخه چې د امیر او د هغه د پلار د ټولو جنایتونو اسرار ورسره خوندي دي، هېڅوک دا پوښتنه نه کوي چې دا دومره جایدادونه او پیسې یې له کومه کړې، چې میرصاحب جان ته په یو ځل څلوېښت جریبه مځکه، کلا، آس او نغدې پیسې د مبلمستیا په توګه ورکوي.
د انګرېزانو استازی د ۱۹۰۸ ز کال د اپرېل د پنځلسمې په رپوټ کې لیکي: «امیر د اپرېل په دریمه ولید چې د کوتوالۍ څنګ ته سړک چټل دی. نایب کوتوال یې را وباله؛ پر هغه ځای یې په شلاقو وواهه او څلور سوه روپۍ یې جریمه کړ. څلورو عسکرو ته یې وظیفه ورکړه چې د سبا ورځې تر لسو بجو مخکې پیسې ورڅخه حصول کړي.
په همدغه ورځ امیر ولیدل چې له مراد خانۍ سره نږدې یو سړک ناپاکه او چټل دی. کلانتر یې را وباله. د هغه په اوږده ږیره پورې یې تار غوټه کړ او تار یې په دېوال کې په یوه مېخ طویله پورې وتاړه. په دې توګه به سړي سر په هوا نیولی و. یوازې د لمانځه او ډوډۍ خوړلو په وخت کې، د لنډ وخت لپاره خوشې کېدو او د شپې به د ارګ په بندیخانه کې ناست و. درې ورځې پرله پسې یې دا سزا ولیده.
یوه بد فعله ښځه یې سردار نصرالله خان ته بوتله. هغه خپلې معمولي شکنجې ورکړې او له ښځې څخه یې په زور اقرار واخیست. هغې په جُرم کې د خپلو نارینه او ښځینه شریکانو نومونه یاد کړل. په هغه شپه څلور نارینه او شپږ ښځې له کورونو څخه وایستل شوې او بیا یې درک معلوم نه شو».
دا هم د دواړو ورونو د چټک او ظالمانه عدالت او قضاوت نمونې دي.
د انګرېزانو استازی د مې د میاشتې دې دېرشمې په رپوټ کې لیکي: «شکرخان کوهستانی چې یو مشهور غل دی او هر وخت په پېښور او د را ولپنډۍ په علاقه کې غلاوې کوي، امیر ته کله کله تحفې رالېږي. هغه په دې وروستیو شپو ورځو کې امیر ته دوه سوه طلاوې او یو قېمتي ساعت په سوغات کې ورکړل او امیر هم د ده تحفه ومنله. ویل کېږي چې شکرخان په جنګونو کې برخه اخلي او له غازیانو سره مرستې کوي... شکرخان د لغمان له دوولسو کسانو سره په جنګونو کې د برخې اخیستلو لپاره، سرحد ته تللی دی. هغه تر اوسه نه دی راستون شوی او د هغو نورو دوولسو سړیو درک هم نه دی معلوم ».
د انګرېزانو استازی د ډسمبر د دېرشمې په یوه رپوټ کې لیکي: «یو هودخېل چې بارو نومېږي، څو ورځې مخکې له کابل څخه هند ته روان شو. دی ډېر مشهور غل دی، تل یوه بېلچه له ځان سره ګرځوي او خلکو ته وایي چې خپله یوه ګوله ډوډۍ په حلاله مزدوري پیدا کوي. مګر چې هر وخت موقع ورته برابره شي، نو تر غلا نه تېرېږي. دوه کاله مخکې یې له هند څخه نهه ټوپک راوړل او امیر حبیب الله ته یې ورکړل. دی څو ځله په هند کې محکوم شوی دی او بندیخانې ته لېږل شوی دی. له ده سره ځینې کسان تللي دي؛ مګر دی هر وخت غواړي چې غلا په یوازې سر وکړي... توره او سپینه ږیره لري، جګ قوي سړی دی او سپین پوستی غوندې دی، پېته هزاره ډوله پزه یې ده».

### کله چې امیر له غلو څخه تحفې قبولې کړي، نو سړی به څرنګه د امنیت تمه کوي؟

د عدالت قایمول او سم قضاوت کول د امیر او سردار نصرالله خان په نیت او ارادې او د مقصر یا مدعی علیه په اجتماعي دریځ پورې اړه درلوده. سردار نصرالله خان څلور ښځې او شپږ نارینه په یوه شپه وژلای شي او هېڅوک له هغه څخه بازخواست نه کوي. مګر د امیر زوی سردار حیات الله خان چې د بدخشان نایب الحکومه دی، د خلکو له ټولو شکایتونو سره سره پر خپل ځای باندې ناست دی او حتی امیر د خلکو پر ناموس باندې د ښکاره تېري په باره کې پوښتنه نه ورڅخه کوي.
د انګرېزانو استازی د اکتوبر د اوومې په رپوټ کې د هرات له والي محمدسرور خان څخه د خلکو د شکایت په باب لیکي: «د هرات ټولو ملکي او پوځي مامورینو، له څو محدودو کسانو څخه پرته، اعلیحضرت ته یوه عریضه لیکلې او هغه یې د نایب الحکومه سردار محمدسرور خان له ظلمونو څخه خبر کړی دی او د هغو کسانو یو اوږد لېست یې ورکړی دی، چې د سردار محمدسرور خان د ظلمونو او تېریو له لاسه مشهد او روسیې ته کوچېدلي دي».
د انګرېزانو استازی د هرات د خلکو د شکایت په مقابل کې د امیر د عکس العمل په باب څه نه وایي او د ویلو څه خو ځکه نه لري، چې امیر محمدسرور خان ته هېڅ نه دي ویلي؛ بلکې د خپلې پاچاهۍ په دوران کې یې څو څو ځله ترفیعات ورکړل او له ده څخه وروسته د اعلیحضرت محمدظاهرشاه تر زمانې پورې یې هر وخت نازولی وو. دا چې د عریضې لیکونکي او لاسلیک کوونکو ته به څه ورپېښه شوې وي، سړی د امیر له عدالت او قضاوت او له خلکو سره د سردارمحمدسرور خان له خپل سري او ظالمانه سلوک څخه ښه قضاوت او اټکل کولای شي.
په یو په زړه پورې رپوټ کې چې د خلکو او عالي رتبه مامورینو د شخصي ژوند په چارو کې د امیر مداخله ښیي، په لوستلو ارزي. د انګرېزانو استازی د جون د دریمې په رپوټ کې لیکي: «د چرخ والي محمدجعفر خان په دې تازه شپو ورځو کې له کافرستان څخه راغلې مسلمانې شوې نجلۍ سره واده کړی دی. امیر دې مسئلې سخت په غوسه کړی دی، ځکه چې ده امر کړی دی چې له ده او د کافرستان له اوسېدونکوڅخه پرته، هېڅوک نه شي کولای چې د کافرستان له نجونو سره ودونه وکړي. شلو سپرو ته یې وظیفه ورکړې ده، چې محمدجعفر خان کابل ته بندي راولي. امیر هغه ته د سختې سزا ورکول په نیت کې لري».
دې بې انصافۍ ته به سړی څه نوم ورکړي، چې امیر د نورستان له ښځو سره واده کول یوازې خپل حق بولي.
رشوت، اختلاس او پر خلکو باندې د حکومتي مامورینو تېری د امیر حبیب الله د پاچاهۍ یوه عامه ستونزه وه. د کندهار نیوز لیټرز په نوم کتاب د لسم ټوک په ۳٦م مخ کې د انګرېزانو د خبر لیکونکي د ۱۹۰۳ ز کال د جولای د اتمې په رپوټ کې، د کندهار د کوتوال پر ټولو ظلمونو او تېریو باندې د امیر د سترګو پټولو او د کوتوال د ظالمانه سلوک په باره کې راغلي دي، چې کوتوال له خلکو څخه په زور پیسې اخلي، رشوتونه اخلي او دومره اخلاقي فساد کوي، چې ټولې کیسې یې په یوه رپوټ کې نه ځایېږي. کوتوال یو تاجک هلک چې د ده ناروا غوښتنې ته نه تسلیمېدو، بندي کړی دی. په رپوټ کې راغلي دي، چې دلته ټول افسران لېږ او ډېر په اخلاقي فساد اخته دي، خو کوتوال پر اخلاقي فساد دومره مشهور دی، چې خلک یې له نامه څخه وېرېږي. کوتوال هغه ځوانې نجونې او هلکان چې د ده ناروا غوښتنو ته په خپله خوښه تسلیم نه شي، په زور وړي.
خبر لیکونکی د جولای په پنځمه، په خپل یاداښت کې لیکي، چې تېره شپه زما له کور سره نږدې د عبدالحق تحصیلدار کور غلو وواهه. دی وایي، دا حمله دومره په سپین سترګۍ وشوه چې اندازه نه لري. د شپې په پنځلس کمو دوو بجو د مرمیو باران جوړ شو او غلو خپل کار وکړ. داسې اټکل کېږي چې اووه زره روپۍ به یې وړې وي. پهره دارانو چې ډېر نږدې ولاړ وو، له غلو سره هېڅ مقاومت ونه کړ. داسې ویل کېږي چې دا غله د کوتوال سړي وو.
خبر لیکونکی په همدغه پاڼه کې لیکي، چې د پشت رود دوه تنه ځمکوال، په رڼا ورځ د کندهار په دوه میلې کې غلو وشکول. ویل کېږي چې نن سبا دا ټول جنایتونه د پولیسو کار دی او هغوی ته هېڅوک څه ویلای نه شي.
خبر لیکونکی وایي چې د جولای په لومړۍ نېټه، د میوند په کوتل کې محمدزیو داړه مارانو پر یوه کاروان باندې حمله وکړه. شپږ تنه یې وژلي او شپاړس اوښان او ځینې نور څاروی یې ورسره وړي دي.
خبر لیکونکی په همدغه کتاب کې، د ۱۹۰۳ ز کال د نومبر په شپږمه لیکي، چې له میوند څخه راغلي رپوټونه وایي، چې پنځوسو الکوزیو چې له ټولو سره ټوپک وو، د میوند دره یې نیولې ده او ځینې کاروانونه یې لوټلي دي.
د دې ټولو بې امنیتیو یو مهم علت بیا هم پراخ اداري فساد دی. موږ ولیدل چې امیر پخپله له غلو څخه تحفې اخلي او د کندهار کوتوال له غلو سره جوړ دی. د انګرېزانو خبر لیکونکی د مارچ په دیارلسمه، د نورو رپوټونو په ترڅ کې لیکي، چې د زنګاباد مشهور غل، رحمن چې په رستم مشهور دی، سردار او ډګروال ته ډېر قېمتي سوغاتونه راوړي دي او هغوی یې هم ښه قدر کړی دی.
د رشوت په برخه کې تر ټولو په زړه پوري کیسه په هغه رپوټ کې راغلې ده، چې خبر لیکونکي د ۱۹۰۴ ز کال د جون په شپاړسمه لیکلی دی او وایي چې نایب الحکومه ته له کابل څخه یو فرمان رسېدلی او په هغه کې یې ورڅخه غوښتي دي، چې قاضي ته ووایي چې نور نو له پاچا څخه ستا رشوت خوري او خیانت پټ نه دی. خو پاچا تر هغه وخته پورې تاته انتظار باسي، چې ته له حکومتي خزانې څخه ښې ډېرې پیسې ذخیره کړې. یعنې پرېږده چې قاضي خلکو ته ښه تکلیفونه ورکړي، ښه رشوتونه وخوري، جېبونه ډک کړي؛ نو بیا به یې پر یوه ځای ورڅخه واخلي. دا نو نه ده معلومه چې امیر به تر کله قاضي ته صبر کوي او د امیر په اټکل ډېرې پیسې څه ته ویل کېږي. خو خلک مجبور دي چې د امیر د حوصلې تر تنګېدلو پورې د قاضي ظلمونه او ناروا وزغمي.
لکه څرنګه چې امیر او سردار نصرالله خان له خپلې خوښې سره سم عدالت چلاوه او قانون یوازې د دوی د ارادې ترجماني وه؛ د هغوی عالي رتبه مقاماتو هم له خپلې خوښې سره سم قانون چلاوه. د بېلګې په توګه، د کندهار نیوزلیټرز د لسم ټوک په ۱٦٦م مخ کې راغلي دي، چې نایب الحکومه د دوو تنو ښې لاسونه د انګورو د غلا په ګناه ورڅخه قطع کړل او په دغه وخت کې چې د غلو لاسونه غوڅېدل، د هغه هندو جېب ووهل شو چې د عملیاتو تماشه یې کوله. کوتوال ټول خلک تلاشي کړل، مګر غل یې پیدا نه کړ.
د همدغه کتاب په ۱۴۵م مخ کې د همدغه نایب الحکومه په وخت کې د خبر لیکونکې په یوه رپوټ کې راغلي دي، چې د محمدیعقوب خان اڅکزي له سړیو څخه د غلام رسول په نوم یو تن، د ګوشخانې د اوسېدونکي محمدامین خان تاجر له کور څخه، د شپېتو زرو روپیو د غلا کولو په تور ونیول شو. محمدیعقوب پیسې تحویل کړې او سړی یې راخوشې کړ.
څرګنده خبره ده چې د انګورو په غلا دوو تنو نیول شویو غریبانو به د خوشې کولو لپاره څوک نه درلودل او د شپېتو زرو روپیو، چې په هغه وخت کې د یوه بشپړ جایداد بیه وه، غل په پیسو خوشې کېږي او نوره هېڅ سزا نهویني.

**ماخذونه**

1: Nevill, Captain. H. L Campaigns on the North West Frontier. 1977 Pakistan.
2: Diary of the British Agent at Kabul. From the 1st January 1908 to the 30th December 1908.
3: Kandahar Newsletters, tenth volume. For the Year 1903-1904-1905 Directorate of Archives Department. Government of Balochistan Quetta Pakistan.

# د ملکي تلفاتو بې ساری ډېرښت

لیکنه: احسان الله ارینزی

د ډېرو کورنيو او بهرنيو منابعو په حواله، ۲۰۱۸ ز کال د افغانستان د ټولو خلکو او په تېره بيا د ښځو، ماشومانو او خبريالانو لپاره ډېر خونړی کال و او د وطن په ګوټ - ګوټ کې په زرګونو خلکو؛ خو په بېلابېلو نومونو خپل ژوند له لاسه ورکړ. له بده مرغه چې اوس يعنې د ۲۰۱۹ ز کال په تېرو څلورو مياشتو کی هم همدا حالت روان دی او هره ورځ د هېواد په يو ګوټ کې پر ملکيانو تندر پرېوتی وي. د وردګو صدمرده يې تر ټولو ښه بېلګه ده.

پخوا به ژمی په افغانستان کې د جګړو د کمېدو وخت و او د دولت ډېر مخالف وسلوال جنګيالي به د دمې او نويو زده کړو لپاره ګاونډيو هېوادونو، ايران او پاکستان ته تلل؛ خو په تېرو دريو – څلورو کلونو کې د اوړي او ژمي توپير له منځه تللی او کال دوولس مياشتې

د هېواد په ډېره جغرافيه کې خونړۍ پېښې، چاودنې، بمونه او جګړې له خلکو څخه د سر او مال قرباني اخلي او ناورينونه پنځوي.

په تېرو دوو – دريو کلونو کې جګړې او يرغلونه دومره درانه شوي چې ډېری کورنۍ او بهرنۍ سرچينې يې حتی د مياشتو راپورونه خپروي او د جګړې پر ټولو خواوو غږ کوي، چې که په جګړه کې اخلاقي نورمونه او نړيوال قوانين په پام کې ونه نيسي، دا جګړه ورځ په ورځ نوره خونړۍ کېږي او ورسره جوخت، د ملکي خلکو تلفات اسمان ته رسېږي.

سږ کال د اپرېل په لومړۍ ورځ د ملکي وګړو د خونديتوب او عدالت غوښتنې ډلې يا CPAG په يوه اعلاميه کې وويل چې د روان کال په مارچ مياشت کې د ولسمشر محمد اشرف غني له سپارښتنو سره سره، په هېواد کې ملکي ولسي خلکو ته دومره درنه مرګ ژوبله اوښتې چې په تېرو اتلسو کلونو کې ساری نه لري.

دا ډله وړاندې ليکي چې په هغه مياشت کې د هېواد په اتلسو ولايتونو کې ۱۸۴ ملکي کسان وژل شوي او ۳۰۰ ټپيان دي چې ۲۷ پکې مېرمنې او ۵۴ ماشومان دي.

له بده مرغه تريخ حقيقت دا دی چې د افغانستان د جګړې ټولې ښکېلې غاړې، مقابل لوري په جنګي جنايتونو او بشري ضد جرمونو تورنوي او ځانونه ورته سپينې کوترې ښکاري؛ خو واقعيت دا دی چې ځينې دا سپينې کوترې په ځينو مواردو کې په ډېرو تورو او غير انساني اعمالو بوختې دي.

سږ کال د مارچ په ۱٦مه ولسمشر محمد اشرف غني په يوه فوق العاده امنيتي غونډه کې پر افغان او نړيوالو پوځيانو غږ وکړ چې تر دې وروسته د ملکي خلکو خونديتوب ته پوره پاملرنه وکړي؛ خو د هېواد له ګوټ – ګوټ څخه داسې ترخه خبرونه خپاره شول چې دولتي او نړيوالو ځواکونو په شپنيو او هوايي بريدونو کې ملکي خلک او په تېره بيا په کورونو کې مېرمنې او ماشومان په نښه کوي او د دې پر ځای چې خپل وسله وال ايډيالوژيک مخالفان له منځه يوسي، ورځ په ورځ د خلکو د پراخو پرګنو ملاتړ له لاسه ورکوي، خپل طبيعي دوستان او خواخوږي پر مخالفينو او دښمنانو بدلوي.

د دولت وسله وال مخالفين هم په دې منځ کې تړلي اوس نه دي ناست او پر دولتي اهدافو د بريد په وخت کې د ملکي خلکو د خونديتوب حق او درناوی نه ساتي. دوی داسې روزل شوي دي، چې باور لري جهاد به تر قيامته د ټولې اسلامي نړۍ په استازيتوب يوازې د افغانستان د خلکو د سر او مال په بيه روان وي او ګټه به يې نورو ته ځي.

اوس که پر دې باندې د اربکيانو، قومي تربګنيو، د جهادي قوماندانانو د ملېشو، اقتصادي مافيا، غلو، داړه مارو او اختطاف چيانو له لاسه د وژل شوو او ټپي شوو هېوادوالو شمېره هم کېږدو؛ نو وبه وايو چې الله ته پر دې وطن رحم وکړي؛ ځکه چې د خپلواکۍ اتلان، د دين پتنګان او د جهاد او مقاومت مدعيان او بله خوا د بشري حقونو مدافعين، د ولسواکۍ ملاتړي ټول دلته زموږ په بېوزله هېواد کې پر ډېرو بشري ضد، انساني ضد او اسلامي ضد فعاليتونو لګيا دي، خلک وژني، وينې بهوي، لارې، پلونه، ښوونځي او نور مدني بنسټونه نړوي او لنډه دا چې هر څوک دلته د خپلې اجنډا لپاره چې ډېر په پرديو استخباراتو پورې اړه لري، په خړو اوبو کې کبان نيسي او زموږ هېواد ته درانه زيانونه رسوي.

په دې لړ کې د دولت او نړيوالو ځواکونو مسووليت ډېر دروند دی. دولت د دې جغرافيې سياسي واکمن دی او دنده لري چې د خلکو سر، مال، ناموس او عزت وساتي. نړيوال ځواکونه خو د بشري حقونو مدافعين دي او د دې لپاره افغانستان ته راغلي چې خلک د ترهګرو او وسله والو ډلو او ډلګيو له شر څخه وژغوري؛ که رښتيا هم دوی د دغه هدف لپاره راغلي وي او موخه يې افغان وژنه نه وي، دوی بايد په دې جګړه کې د اخلاقي نورمونو او نړيوالو قوانينو د تطبيق او درناوي پر ښکاره سمبولونو بدل شي، څو نور دا وحشت پای ته ورسېږي.

په هلمند کې د دوو مېرمنو اسارت، دا په ډاګه کړه چې که دا جګړه مهار نه شي، نو ډېرو بدو او درنو عواقبو ته بايد انتظار وباسو! د خالد او الفتح اعلانونه د دې بدو عواقبو پيلامې دي چې درانه زيانونه به واړوي. د وردګو د صدمرده خونړۍ پېښه او د مخابراتو پر وزارت بريد او د ملکيانو تلفات د دې خبرې ښه ثبوت بلل کېدای شي.

# د بشري حقونو د خپلواک کمېسيون راپور؛

## تېر کال تر لسو زرو ډېرو ملکي افغانانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده



په تېر کال کې په افغانستان کې د روانې جګړې له امله د ملکي مرګ ژوبلې په اړه د راپورونو په تعقيب، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون هم يو راپور خپور کړی دی. د دغه کمېسيون موندنې ښيي، چې په تېر ۱۳۹۷ لمريز کال کې د ورم ۹٦ لمريز کال په پرتله د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې ۱۹ سلنه لوړوالی راغلی دی. د دغه کمېسيون غږي د ملکي وګړو پر روانه مرګ ژوبله اندېښنه ښيي او تر ډېره يې لامل د بهرنيو ځواکونو هوايي بريدونه ښيي.

د کمېسيون د شمېرو پر بنسټ، تېر کال په وسله والو شخړو، جګړو او بريدونو کې دوه زره او ۳۲ ملکي کسان وژل شوي او اته زره او ۱۸۰ تنه نور ټپيان شوي دي.

د دغه کمېسيون مسوولين وايي، چې د ملکي تلفاتو د لوړېدو يو مهم علت د افغان او بهرنيو ځواکونو هوايي بريدونه دي. د دغه کمېسيون مشره مېرمن سيما سمر وايي، چې جګړو لا هم دوام پيدا کړی او ورسره جوخت د ملکي وګړو مرګ ژوبله لوړه شوې ده. نوموړې ويلي: ((له بده مرغه چې جګړې اوږدې شوې او ورسره جوخت د ملکي وګړو مرګ ژوبله هم لوړه شوې ده. د هېواد په ګوټ ګوټ کې د مخامخ نښتو او هوايي بريدونو له امله زرګونو هېوادوالو ته مرګ ژوبله اوښتې ده، تر ډېره د ملکي مرګ ژوبلې لامل د افغان او بهرنيو ځواکونو هوايي بريدونه دي)).

د مېرمن سمر په خبره، په دغو جګړو او شخړو کې نهه سوه ښځې او دوه زره او ۵۰۰ ماشومان وژل شوي دي. د بشري حقونو خپلواک کمېسيون رييسه د جګړې پراخېدو له امله د ملکي مرګ ژوبلې لوړېدو په تړاو اندېښنې څرګندوي. د نوموړې په خبره، ښکېلو لورو ته پکار ده، چې د ملکي وګړو ژوند او نړيوالو بشري حقونو ته درناوی وکړي او په دې توګه د ملکي تلفاتو شمېره راښکته کړي.

په دغه راپور کې طالبان د ۵۳ سلنې، افغان او بهرنې ځواکونه د ۱۱ سلنې او داعش وسلواله ډله د ۱۲ سلنې ملکي تلفاتو لامل شوي دي. مخالفو وسلوالو ډلو د دغه راپور په تړاو څه نه دي ويلي، خو ملي دفاع وزارت وايي، چې د دوی عمليات پلان شوي وي او تر ډېره يې د ملکي تلفاتو د مخنيوي هڅه کړې ده.

د ملي دفاع وزارت د مرستيال وياند زبير عارف ويلي: ((موږ تل هڅه کړې چې ملکي تلفات رامنځ ته نه شي. زموږ عمليات پلان شوي وي، کشفي ارګانونه خپل کار په سمه توګه مخ ته وړي، نو ځکه مو کار مسوولانه وي)).

د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې رپوټ پر بنسټ، تېر کال هدفي وژنو کې ډېروالی راغلی، چې په کابل، پکتيکا، غور، ننګرهار او جوزجان کې ۱۴۱۰ تنه په دغه ډول بريدونو کې وژل شوي دي.

تر دې وړاندې هم په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه دفتر تر څنګ، د سيګار له لوري هم د افغان ملکيانو د تلفاتو په اړه راپورونه خپاره شوي وو. دوی هم په خپل وار له ښکېلو لورو غوښتي وو، چې د ملکي وګړو ژوند ته توجه وکړي او په خپلو عملياتو کې د جګړې او نړيوال بشري قوانين رعايت کړي. دغه راپور داسې مهال خپرېږي چې په هېواد کې حکومت او طالبانو دواړو نظامي عمليات اعلان کړي دي. په دې لړ کې تر ډېره هوايي بريدونه کېږي، چې ملکي وګړو ته هم مرګ ژوبله پکې اوړي.

# شورای ملی؛ شنبه آینده پیش از اعلام نتایج انتخابات کابل و میدان وردگ گشایش می‌یابد

شورای ملی، شنبۀ آینده قبل از اعلام نتایج نهایی انتخابات ولسی جرگه از حوزه های کابل و میدان وردگ گشایش می‌یابد؛ اما برخی حقوق دانان و نامزدان پیشتاز کابل، این اقدام را غیرقانونی می‌دانند.


انتخابات ولسی جرگه در ۲۸ و ۲۹ میزان سال گذشته در ۳۲ ولایت کشور و در پنجم عقرب در کندهار برگزار شد؛ اما این انتخابات در ولایت غزنی بنا به دلایل و مخالفت‌های موجود در این ولایت برگزار نشد.

بر اساس تقویم انتخاباتی، قرار بود نتایج ابتدایی انتخابات ولسی جرگه، در ۱۹ عقرب و نتایج نهایی آن در ۲۹ قوس ۱۳۹۷ اعلام شود؛ اما با گذشت حدود شش ماه پس از برگزاری انتخابات، هنوز هم نتایج نهایی تمامی ولایت‌ها اعلان نشده است.

کمیسیون مستقل انتخابات، تا کنون نتایج نهایی انتخابات ولسی جرگه ۲۹ حوزه انتخاباتی را اعلام کرده است و به شمول حوزه کوچی‌ها نتایج انتخابات ولایات کابل، میدان وردگ، پکتیا، بغلان و کندز اعلان نشده است.

داکتر فاروق وردگ وزیر دولت در امور پارلمانی، به آژانس خبری پژواک گفته است که نتایج انتخابات ولسی جرگه ولایات متباقی به غیر از ولایت‌های کابل و میدان وردگ، امروز اعلام می‌شود.

وی افزوده است که نماینده گان مردم به جز کابل و میدان وردگ، روز پنجشنبه وثایق انتخاباتی را به دست می آورند و روز شنبه شورا ملی افتتاح می‌شود.



# ایران د خپلو تېلو پر سکتور د امریکا نوي بندیزونه غیرقانوني بللي دي

د ايران د بهرنيو چارو وزارت د دغه هېواد د تېلو پر سکټور د امريکا بنديزونه غيرقانوني بللي دي.

د دغه وزارت وياند عباس موسوي په تهران کې خبريالانو ته ويلي، چې دوی د امريکا پر وروستۍ پرېکړې چې پنځو هېوادونو ته نور د ايران د تېلو د پېرلو په برخه کې له بنديزونو معافيت نه تمديدوي، غور کوي او پايله به يې د دغه هېواد مشرتابه ته وړاندې کړي، چې د هغې په رڼا کې به خپله پرېکړه ډېر ژر اعلان کړي.

دا په داسې حال کې ده چې ايران له دې مخکې هم څو ځله ګواښ کړی و، چې که د ايران د تېلو پر صادراتو د امريکا بنديزونه سخت شي، د نړۍ له قدرتونو سره د ۲۰۱۵ ز کال له اټومي تړونه به ووځي.

واشنګټن د تېر کال په مې مياشت کې له دغه تړونه وتلی او پر ايران يې د دغه هېواد د اټومي پروګرام په تړاو ځنډول شوي بنديزونه بېرته جاري کړي دي.

سپينې ماڼۍ ويلي چې د دې پرېکړې موخه دا ده، چې د ايران د تېلو صادرات صفر ته راکم شي او د ايران اوسنی رژيم د عوايدو له دې اساسي سرچينې بې برخې شي. د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو ويلي، واشنګټن د سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو په ګډون، د تېلو له سترو توليدوونکو هېوادونو سره هر اړخيزې او ګټورې خبرې کړې، څو په بازار کې د تېلو د کمېدو مخنيوی يقيني کړي.

پامپيو په واشنګټن کې خبريالانو ته پر ايران د بنديزونو د سختولو په اړه ويلي: «نن په دغه اعلان سره موږ دا واضح کړه، چې په خپل هدف کې جدي يو. موږ به يې صفر ته ورسوو. دا چې څومره وخت به په دې کچه کې پاتې کېږو، دا کاملاً د ايران د اسلامي جمهوريت پر جګپوړو مشرانو پورې تړلې.

موږ د ايران ستر مشر ايت‌الله علي خامنه يي او د هغه همکارانو ته خپلې غوښتنې ډېرې واضح کړې، چې د خپلو اټومي وسلو له تعقيبه لاس واخلئ، د بالستيک توغنديو پراختيا او ازموينه ودروئ او د امريکايي اتباعو غيرقانوني نيونې بندې کړئ».

د واشنګټن د دغې پرېکړې له مخې، د مې له دويمې وروسته به پنځه هېوادونه چين، هند، جاپان، جنوبي کوريا او ترکيه له ايران څخه د تېلو د پېرلو په صورت کې، د امريکا له بنديزونو معاف نه وي.

د ولسمشر ټرمپ ادارې تر دې مخکې دا پنځه هېوادونه، له ايران څخه د تېلو د پېرلو په صورت کې، د مې تر دويمې له بنديزونو استثنا کړي وو. د واشنګټن د دې پرېکړې پر وړاندې تر اوسه ترکيې او چين عکس‌العمل ښودلی دی. د ترکيې د بهرنيو چارو وزير مولود چاووش اوغلو په يوه ټوېټ کې ويلي، ترکيه يو اړخيز بنديزونه او له ګاونډيانو سره د اړيکو په برخه کې په دې ډول د نفوذ تحميلول غندي.

بلخوا چين هم د امريکا پر دې پرېکړې تونديي نيوکې کړې دي. د دغه هېواد د بهرنيو چارو وزارت وياند، ګېنګ شوانګ پر هغو هېوادونو چې له ايران څخه تېل پېري، په يو اړخيز ډول د امريکا د بنديزونو لګولو پرېکړه غيرقانوني بللې ده.

## د کتـــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ ليکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: ميـراحمد يـاد

### نهم څپرکی
### پر خلکو نېک گومان کوئ




ستاسې ذهن ستاسې خپله راډيو ده، نو کنټرول يې کړئ. د خلکو په اړه چې فکر کوئ، نو مثبت موج ته شئ.
منفي موج مو چې ځنگه واورېده دستي يې غلی کړئ، يا موج بدل کړئ. د بدلون لپاره يې د هغه کس يوازې په يوه مثبت اړخ فکر وکړئ. د زنځيري غبرگون له مخې دا يو فکر له نورو فکرونو سره تړل کېږي او ستاسې پر ذهن اغېز کوي.
په يوازيتوب کې يوازې تاسې دا پرېکړه کولای شئ چې مثبت موج واورئ، که منفي؟ خو که له بل چا سره غږېږئ، نو بيا مو فکري لوری هغه ټاکلای شي.
دا ياد ساتئ چې ډېر خلک د مينې په اصلي مانا نه پوهېږي، په دې خاطر نورو ته دا عادي خبره ده چې تاسې ته درنږدې شي او د يوه کس په اړه درته څو بدې ردې ووايي: يو همکار مو د بل همکار سپکه درته وايي، يو گاونډی مو د نوو گاونډيانو کورنۍ ستونزې درته راوړي، يو پيرودونکی د خپل يوه رقيب تېروتنې درته ښيي، ښايي ډېر نور څه هم درته راشي... فکر پسې فکر راځي.
څوک چې د نورو په اړه منفي خبرې اوري، نو دا وېره شته چې دی يې هم په اړه منفي ذهنيت پيدا کړي. که تاسې ځان و نه ساتئ، نو پام به مو شي چې ځينې خبرې يوازې همدې اور ته لمن وهل وي، مثلاً: (ولا ته به نه يې خبر؟ اورېدلي دې دي چې ...؟ نوې کيسې نه خبر يې؟)
دا شيان داسې دي لکه بال چې په ديوال وولې او بېرته تاته راستون شي.
په دوو طريقو د نورو خلکو مخه نيولای شئ چې تاسې له مثبت – منفي موج ته بدل نه کړي.
يوه لاره دا ده چې ډېر زر او په ډېره ارامۍ بحث بدل کړئ... . دويمه لاره دا ده چې يو عذر وکړئ او ځان ترې خلاص کړئ، مثلاً وبښه زه بايد چېرته لاړ شم، يو کار مې دی .... ځان سره کلکه ژمنه وکړئ چې نور خلک به ستاسې ذهن نه بدلوي او تل به په مثبت موج کې اوسېږئ.
که مو دا مهارت پيدا کړ، نو د ټولو خلکو په اړه به ښه او مثبت نظر ولرئ، دا به مو ژوند کې لويې برياوې هم تضمين کړي. د بېمې يو بريالی پلورونکی و، له نورو خلکو سره مينې يې په کار کې ستره بريا ور په برخه کړې وه، کيسه يې داسې کوله:
(د بيمې کار ته چې نوی راغلم، درې وخته ډوډۍ هم په سختۍ پيدا کېده. هغه وخت به مې ويل چې دې کاروبار کې لکه پيرودونکي هومره پلورونکي هم دي او يو بل سره سخته سيالي کوي. خو ډېر زر مې هغه څه زده کړل چې ټول بېمه پلورونکي پرې پوهېږي او هغه دا چې په لسو کې نهه پيرودونکي په لومړي سر کې وايي چې زه هېڅ بېمه نه غواړم. اوس په کار کې ښه يم، له دې امله نه چې گني په مسلکي شيانو پوهېږم، سره د دې چې دا مسلکي مسائل په خپل ځای مهم دي، خو اوس هم د بېمې کاروبار کې هغه کسان سخت کړاونه گالي چې تر ما يې مسلکي پوهه ډېره ده. زه داسې کسان هم پېژنم چې پر بېمې پلورنې يې کتاب ليکلی دی، خو يو سړی نه پوهېده چې پنځوس ورځې نور به ژوندي وي او ده پرې بېمه خرڅه نه کړی شوه.
زه يوازې په يوې خبرې بريالی يم، زه چې کومو پېرودونکو سره کار کوم، هغه راته له زړه نه گران دي، ډېره مينه ورسره کوم. ځينې همکاران مې داسې ښيي چې خلک پرې گني گران دي، خو داسې نه وي. انسان سپی هم نه شي تېرايستی. که تاسې د يوه شي يوازې ظاهر ته گورئ، نو ستاسې حرکات، سترگې او خبره هم دا چيغې وهي چې (مصنوعي) يو.
زه چې د پېرودونکو په اړه معلومات راټولوم، هغه کار کوم چې نور پېرودونکي يې کوي: عمر، دنده، عايد، کورنۍ او نور معلومات پيدا کوم، خو زه پکې يو بل شي ته گورم او هغه د پېرودونکي د گرانښت بهانه ده. دا بهانه يې ښايي اوسنۍ دنده شي، ښايي کاري سوابق يې شي، خو هر څه چې وي د هغه کس د گرانښت لپاره يو قانع کوونکی دليل پيدا کوم. بيا چې زه هر وخت دا پېرودونکی گورم د گرانښت يو دليل يې راته پيدا کېږي او له خبرو وړاندې يې زما په ذهن کې يو مينه ناک تصوير جوړ شوی وي.
دا کار گټه لري، ځکه په ما چې هغه گران وي، نو په هغه هم بلاخره گرانېږم. څه موده وروسته بيا هغه ته مخامخ نه کېنم، بلکې په خوا کې يې کېنم او په گډه يې د بېمې د پلان په اړه غږېږو، ځکه اوس راته د يوه ملگري په سترگه گوري او زما پر نظر او قضاوت باور کوي. البته په لومړي نظر ليدو دا هر څه نه کېږي، خو زه پوهېږم چې که چاسره مې مينه وکړه، نو مينه راسره کوي او بيا ورسره په کاري مسائلو غږېدی شم.
دا تېره اونۍ په درېيم ځل يوه تريخ پيرودونکي ته لاړم. هغه رامخکې شو او زما له سلام وړاندې يې راته بدې ردې پيل کړې. دومره راته وغږېد چې ساه يې لنډه شوه او وروستۍ خبره يې دا وه چې: (بيا دې دلته ونه گورم!)
خبرې يې چې ختمې کړې، زه پر خپل ځای ولاړ وم، يوه شېبه مې يې سترگو ته وکتل، بيا مې په نرمه او خوږه لهجه ورته وويل: (ښاغليه! زه درته نن د يوه ملگري په توگه راغلی يم.) همدې سړي رانه پرون د لسو زرو ډالرو عمري بېمه واخيسته.)

**دوام لري...**

# د عادت ځواک

اکسوس کتابپلورنځی

(د عادت ځواک) تازه پښتو ژبې ته ژباړل شوی کتاب دی. د کتاب ليکوال چارلېز دوهېگ دی او پښتو ژباړه يې د افغان ليکوال د ژبو او ژباړې مرکز کړې ده. همدا پښتو بڼه يې ټولټال ۳۵۳ مخونه لري.
د کتاب محتوا د عادت پر ځواک يا د نوي او مثبت عادت پر خپلولو او بيا د هغه پر پايلو راڅرخي. کتاب کې د يوې مېرمنې ليزا الن په اړه چې زيات وخت يې په يوه اداره کې کار نه شوای کولای او له خپل زيات چاغوالي ځورېده، داسې راغلي: «ليزا د هغې د دوسيو له مخې دېرش کلنه وه، هغې په شپاړس کلنۍ کې سگرېټ څکول او شراب څښل پيل کړي وو او د ژوند په ډېره برخه کې له ډېر چاغښته ځورېدلې وه. يو مهال چې د خپل عمر په شاوخوا پنځه ويشت کلنۍ کې وه، پور ټولوونکو ادارو د (۱۰۰۰۰) ډالرو پور د ورکولو په لټه کې تر پوزې راوستلې وه. د هغې په سوانحو يا سي وي کې د هغې تر ټولو اوږده دنده تر يو کال نه وه غځېدلې.
خو دا مېرمن اوس د څېړونکو پر وړاندې له چست بدن او خوښې اروا سره ناسته وه او ښنې يې داسې ښکارېدې، لکه د يوې غښتلې ځغاستونکې. د هغو تصويرونو په پرتله چې د هغې په دوسيو کې وو، نږدې لس کاله ځوانه ښکارېده او داسې ښکارېده، لکه په هغه خونه کې چې تر شته هر يوه کس ډېره په تمرين کې غښتلې وي. د هغې د ژوند د وروستي رپوټ له مخې پر هغې کوم پور نه و. اوس يې شراب هم نه څښل او د گرافيک طراحۍ په يوه شرکت کې يې پر کار هم نهه دېرشمه مياشت اوښته.
يوه ډاکتر ترې وپوښتل: «له وروستنې څکولې سگرېټه د څومره وخت شوی؟ او له دې سره يې هغه پوښتنې ترې پيل کړې، چې ليزا د مريلنډ له بېتېسوډا ښهر دلته په دغه ازموينځای کې له دې وړاندې هم بيا بيا ځواب کړې وې.
هغې ځواب ورکړ: «شاوخوا څلور کاله او شپيته پونډه وزن مې هم بايللی او له هغې راهيسې په ماراتان د منډو سياليو کې هم گډون کوم». نومړې د ماسټرۍ زده کړې هم پيل کړې وې او يو کور يې هم اخيستی و...».
عجيبه ده؛ کېدای شي تاسې هم وپوښتی چې ځنگه هغه تنبله، شرابي او پوروړې ښځه پر يوې داسې غښتلې او بريالۍ ښځې واوښته. خو ياد ساتئ، دغه کار ناممکن نه دی؛ يوازې ستاسې اراده او قوي عزم غواړي.
کتاب په همدې اړه له هغو عادتونو چې تاسې ترې ځورېږی، ډېرې ښې سپارښتنې لري. تاسې ته هغه لارې چارې ښيي، چې پر مټ يې تر خپلو خوښيو رسېدلی شی. کېدای شي له ډېرو مو اورېدلي وي، چې تاسې تنبل ياستی يا تاسې کوښښ کوی، خو دغه کار ستاسې له سويې لوړ دی.
خو داسې نه ده؛ دغه کتاب مو تر هغو لوړو رسوي، چې تاسې په خوب کې ورختلي ياستی؛ خو يو شرط درنه غواړي، هغه دا چې بد عادتونه به مو پرېږدی او د ښو عادتونو د خپلولو لپاره به کلک عزم کوی.
په ټوله کې دغه کتاب د بدو عادتونو په پرېښودلو کې درسره مرسته کوي او د هغو عادتونو د خپلولو سپارښتنه درته کوي، چې تاسې ته رښتينې خوشالي درکوي.
مينه وال کولای شي دغه کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لويو کتابپلورنځيو څخه په مناسب قيمت ترلاسه کړي.






## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | ليکوال / ژباړن | بيه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د خادم نړۍ ليد( د دوکتورا دورې پايليک ) | محمد اسمعيل يون | ۵۰۰؋ |
| ۲ | طالبه ! خدای که به ملا شې ( ناول) | پروفيسر ډاکټر نصيب الله سيماب | ۱۲۰؋ |
| ۳ | اختلالات روانی | دوکتور عبدالعزيز نادري | ۲۰۰؋ |
| ٤ | د طبی لابراتوار سامان پېژندنه | ډاکټر عبدالله سهار | ۱۲۰؋ |
| ۵ | افغانستان د نړيوال استعمار په لومه کې | شاه ولی آرين | ۲۰۰؋ |
| ٦ | د نړيوالو اړيکو تاريخ له ۱۹۳۵زکال څخه تر ۲۰۰۸ ز کال پورې | موريس واعيس/حکيم الدين منځنی | ۲۰۰؋ |
| ۷ | د اسلامي معلوماتو خزانه | الحاج مولوي نورالله ناصح | ۱۵۰؋ |
| ۸ | توليد و کار گردانی در تلويزيون | جرالدميلرسون/غلامرضا طباطبايی | ۲۰۰؋ |
| ۹ | اساسات آشنايی | پوهنوال نثار احمد کوهستانی | ۲۰۰؋ |
| ۱۰ | اخلاق پروتستان و روح سرمايه داری | ماکس وبر /عبدالمعبود انصاری | ۱۲۰؋ |
| ۱۱ | د تدريس کليدی عناصر | محمد اسمعيل ستانکزی | ۲۲۰؋ |
| ۱۲ | وکتور آناليز | خالقداد فيروز کوهی | ۳۰۰؋ |
| ۱۳ | د لويانو د روغتيا نرسنگ | ډاکټر مطيع الله غيرت ، ډاکټر عباس دانش | ۲۰۰؋ |
| ۱٤ | مالي سياست | دوست محمد احمدزی | ۱۵۰؋ |
| ۱۵ | مثبت فکر | ډاکټر نارمن ونسنټ پيېل/ ثنا الله مومند | ۱۵۰؋ |
| ۱٦ | رمز ارائه موفق | رسول خان امين | ۱۵۰؋ |
| ۱۷ | تجارتی دعوې او حللارې | سيدعبدالحکيم حکمت | ۲۰۰؋ |
| ۱۸ | بنسټيز حقوق او سياسی بنسټونه | پروفيسور دوکتور محمد طاهر هاشمی/عمران فضل | ۱۵۰؋ |
| ۱۹ | ډيپلوماتيکي او کونسلی حقوق | دوکتور جواد صدر/هجزت الله اختيار | ۲۵۰؋ |
| ۲۰ | په ملی او بين المللی حقوقی اسنادو کې د ماشوم حقوق | پوهندوی محفوظ الله عارفي | ۱۳۰؋ |
| ۲۱ | جگره ييز تبليغات د عمومی نړيوالو حقوقو له نظره | پوهندوی محمد ايمل حقمل | ۱٦۰؋ |
| ۲۲ | د معنوی ملکيتونو حقوق | پوهيالی فضل هادي فضلي | ۱۳۰؋ |
| ۲۳ | مالي حقوق | نورالله نوري مجددي | ۲۰۰؋ |
| ۲٤ | د کار حقوق | پوهندوی سيد اکرم هاشمي | ۱۰۰؋ |
| ۲۵ | د افغانستان اقتصاد | پوهنيار سيد قياس سيدي | ۱٤۰؋ |
| ۲٦ | د بانکدارۍ مقايسوی حقوق | پوهنوال دوکتور محمد مصطفی نيازی | ۱۸۰؋ |
| ۲۷ | د افغانستان ادرای حقوق لومړی ټوک | پوهاند نقيب الله ثاقب | ۲۰۰؋ |
| ۲۸ | د افغانستان ادرای حقوق دويم ټوک | پوهاند نقيب الله ثاقب | ۲۰۰؋ |
| ۲۹ | حقپالونکي صحابه او صحابيات | قيام الدين کشاف | ۲۵۰؋ |
| ۳۰ | د ژباړې لار | پوهنمل اسدالله وحيدي | ۱۲۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړيکه ونيسئ**

پته: دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړيکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۷۰ |
| € | ۸۷,۱۰ |
| Rp. | ۵۳۶ |
| ₹ | ۱۱۲۰ |
| ¥ | ۱۱,۴۰ |
| £ | ۹۷,۴۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بيړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همياني

# هستوي انرژي څومره پېژنئ؟

لیکنه: ډاکټر محمد تنها

د سوله ييزې هستوي ټکنالوژۍ تر ټولو پېژندل شوې برخه د هستوي انرژۍ او يا هم د هستوي برېښنا توليد دی. هستوي انرژي د يورانيمو هستې له چاودنې څخه را منځته کېږي. د چاودنې دې تعامل ته هستوي انشقاق وايي.

د انشقاق په ترڅ کې را منځته شوې تودوخه په هستوي بټۍ کې اوبه تودوي او بيا دا اوبه د لوړې تودوخې له امله پر بخار اوړي. دا بخار بيا د برېښنا توربين او توربين بيا په خپل وار سره، د برېښنا توليدوونکی يا جنراټور گرځوي.

د تېلو او سکرو په مرسته مشهوره حرارتي برېښنا هم کټ مټ په همدې ميکانېزم کې توليدېږي، خو يوازينی توپير يې دا دی چې هستوي بټۍ د اوبو تودولو او پر بخار اړولو لپاره، د هستوي انشقاق انرژي کاروي، خو حرارتي برېښنا بيا د اوبو تودولو او پر بخار اړولو لپاره له تېلو او سکرو څخه کار اخلي.

د هستوي بټۍ امنيتي او مصوونيتي تدابير د حرارتي هغې په پرتله ځکه ډېر زيات دي، چې هستوي بټۍ د پلوټونيمو په شان نور راډيواکټيف پاتې شوني لري او دا چاره چاپېريال او وگړو ته ډېر روغتيايي خطرونه را منځته کولای شي.

په فوکوشيما کې هېڅوک او په چرنوبيل کې د وړانگو له کبله يوازې ۳۱ کسان مړه شوي، چې ۲۹ يې د اور وژنې کارکوونکي او يوازې دوه يې د بټۍ کارکووونکي وو.

يورانيم په طبيعت کې بېلابېل ډولونه يا بېلابېل ايزوتوپونه لري، چې يوازې ۲۳۵ يورانيم يې د انشقاق او هستوي انرژۍ توليد وړتيا لري. په طبيعت کې د ټولو شته يورانيمو له منځه، يوازې صفر اعشاره اووه سلنه يې ۱۳۵ يورانيم دي.

د دې لپاره چې يورانيم په هستوي بټيو کې د کارولو جوگه شي، بايد په يوه ځانگړې کتله کې د يورانيمو نورو ايزوتوپونو په لرې کولو سره، د ۲۳۵ يورانيم سلنه تر څلورو پورې لوړه شي.

دې چارې ته د يورانيمو بډاينه يا غني کول وايي، چې پاتې شونو يورانيمو ته يې بيا فقير شوي يورانيم ويل کېږي او ډېرې وخت په وسلو کې د لوړ نفوذي خاصيت لرلو لپاره کارول کېږي.

د نړۍ ساينسي کورنۍ کې د برېښنا د توليد لپاره، د هستوي ټکنالوژۍ کارونې په اړه لومړی ځل هغه وخت فکر پيدا شو، چې د ايټالوي الاصله امريکايي فزيکپوه او کيمياپوه انريکو فرمي محاسباتو، په ۱۹۳۰ ز کال کې وښودله چې د نيوټرونونو په واسطه هستې چاودل کېدای شي.

دا چاره په لابراتواري چوکاټ کې د منظم رياضيکي فارمولونو محاسبې پرمټ وروسته اطريشي او الماني ساينسپوهانو اتو هان، فريټز شتراسمن او ليزا مايتنر د ۱۹۳۸ ز کال ډسمبر کې شوني کړه.

وروسته د دې نظريې بنسټ اېښودونکي انريکو فرمي په ۱۹۴۲ ز کال کې د شيکاگو پوهنتون فوټبال انگړ کې يوه وړه ازمېښتي هستوي بټۍ جوړه کړه او هلته يې د نړۍ لومړی کنټرول کېدونکي هستوي تعامل په رامنځ ته کولو سره، د هستوي انرژۍ کارولو بنسټ کېښود.

له هستوي انشقاق څخه د هيروشيما او ناگاساکي بمباريو غونډې حالاتو کې هم کار واخيستل شو. له دې تجربې وروسته، په ۱۹۵۱ ز کال کې د امريکا ايداهو ايالت کې لومړۍ ازمېښتي هستوي بټۍ جوړه شوه.

په ۱۹۵۴ ز کال کې د پخواني شوروي اتحاد په اوبنينسک ښار کې لومړۍ تجارتي هستوي بټۍ جوړه شوه او هستوي انرژۍ د اقتصادي انقلاب ډگر کې خپل ځای ثابت کړ.

له هستوي انشقاق څخه د هيروشيما او ناگاساکي بمباريو غونډې حالاتو کې هم کار واخيستل شو، چې دې چارې ان تر نن پورې د هستوي انرژۍ په اړه د خلکو په زړونو او ذهنونو کې کرکه ساتلې ده.

دمگړۍ نړدې ۴۵۰ هستوي بټۍ د نړۍ ۱۱ سلنه برېښنا توليدوي، چې فرانسه په نړۍ کې تر ټولو زياته، يعنې ۷۵سلنه هستوي انرژي کاروي. همدا راز امريکا، چين او روسيه د هغو هېوادونو له ډلې دي، چې خپله ډېره برېښنا له هستوي بټيو څخه ترلاسه کوي.

که څه هم د هستوي انرژۍ توليد په ترڅ کې چاپېريال ته مضر غازونه نه خپرېږي، خو دمگړۍ په نړۍ کې ټولې شته هستوي بټۍ د هستوي انشقاق پر بنسټ کار کوي او دا چاره چاپېريال ته د لوړې کچې راډيو اکټيويټي خپروي.

هستوي اتحاد چې د هستوي انشقاق معکوس تعامل دی او د هايدروجن هستو په ډول سپکو هستو يو ځای کېدو له کبله را منځته کېږي، د هستوي انشقاق په پرتله خورا زياته انرژي توليدوي او چاپېريال ته مضر غازونه او راډيواکټيف پاتې شوني نه خپروي.

په نړۍ کې خورا ډېر څېړنيز مرکزو پردې لگيا دي، څو د کنټرول وړ هستوي اتحاد را منځته او د هستوي اتحاد پر مټ هستوي انرژي توليد کړي. اوسمهال دا تعامل او دا انرژي يوازې په لمر کې رامنځته او توليدېږي.

که څه هم د لنډې مودې لپاره په ځينو څېړنيزو مرکزونو کې هستوي اتحاد رامنځته شوی، خو په کنټرول شوي او متداوم ډول يې را منځته کول تر اوسه ډېر ستونزمن ښکاري.

که څه هم هستوي برېښنا پخپله ارزانه توليدېدای شي، خو په دې ټکنالوژۍ کې ډېر لگښت په مصوونيت او امنيت لگېږي. په بټيو کې له هستوي او کيمياوي چاودنو نيولې، بيا له وړانگو څخه د ځان او چاپېريال ساتنې تدابيرو پورې، ټول هغه څه دي چې د هستوي بټيو فعاليت په اړه په عامو وگړو او تخصصي کړيو کې خورا ډېرې پوښتنې را پورته کوي.

د ۱۹۸۶ ز کال د اپرېل په ۲۵مه، د اوکراين چرنوبيل او د ۲۰۱۱ ز کال د مارچ په ۱۱مه د جاپان فوکوشيما هستوي بټيو کې چاودنو او په ترڅ کې يې چاپېريال ته د راډيواکټيف وړانگو خپراوي، دا پوښتنې او انديښنې نورې هم زياتې کړې دي.

خو د پورتنيو دواړو حادثو له ډلې په فوکوشيما کې هېڅوک او په چرنوبيل کې د وړانگو له کبله يوازې ۳۱ کسان مړه شوي، چې ۲۹ يې د اور وژنې کارکوونکي او يوازې دوه يې د بټۍ کارکووونکي وو.

دا په داسې حال کې ده چې يوازې د هند بهوپال په يوه کيمياوي فابريکه کې، د ۱۹۸۴ ز کال د ډسمبر په دويمه، د يوې چاودنې له کبله کابو ۱۶۰۰۰ کسان مړه شوي دي. پورتنۍ څغلنده پرتلې ته په کتو سره، که چېرې هستوي پېښې له نورو هغو سره پرتله شي، نو دا جوته کېږي چې هستوي ټکنالوژي اوس هم تر ټولو نورو هغو مصوونه، پاکه، ارزانه او اغېزمنه ده.

د هستوي انرژي په اړه دمگړۍ د ټولو ښبگنو تر څنگ، يوه پوښتنه ناحل شوې پاتې ده او هغه دا ده چې له راډيو اکټيف پاتې شونو سره چې زرگونه کلونه نور به هم راډيو اکټيف وي، څه بايد وشي.

د انشقاق پر بنسټ د رامنځته کېدونکې هستوي انرژۍ په برخه کې ساينسي څېړنې اوس په همدې متمرکزې دي.

# ناټو: له افغانستانه مو د ځواکونو وتل په سولې پورې تړلي دي



په افغانستان کې د ناټو ملکي استازي نېکولاس کې ويلي، له دغه هېواده د ناټو ځواکونو وتل په دې پورې تړلي دي، چې افغانان په خپل منځ کې د افغانستان د راتلونکي په اړه يوه سياسي جوړجاړي ته سره ورسېږي.

هغه زياته کړې، داسې جوړجاړی چې تلپاتې سوله راولي او د ناټو هېوادونه ډاډمن کړي چې افغانستان بيا د ترهگرو پټنځای نه گرځي. د نوموړي په خبره، په داسې حالت کې به بيا په افغانستان کې د ناټو ماموريت پای ته رسېږي.

کې له بي بي سي سره د ځانگړې مرکې پر مهال ويلي: «موږ او امريکا دلته په گډه راغلي يو او د ناټو په چوکاټ کې گډ کار کوو او کله چې وځو هم، يو ځای به وځو. خو هغه وخت چې ماموريت پای ته ورسېږي».

نوموړي ويلي، په افغانستان کې د ناټو ماموريت هدف روښانه دی او هغه دا چې افغانستان يو ځل بيا د نړيوالو ترهگرو پر پټنځای بدل نه شي. هغه زياته کړې، ناټو دا هيله نه لري چې افغانستان کې د تل لپاره پاتې شي.

د کې په خبره، د ناټو غړي هېوادونه په افغانستان کې د يوه داسې تړون غوښتونکي دي، چې د هېواد د راتلونکي لپاره پکې ټول افغانان ځان وويني او د تېرو کلونو ټولې لاسته راوړنې، لکه بشري حقونو ته درناوی، ډيموکراسي، ښه حکومتولي او پياوړي بنستونه پکې خوندي شي.

د ناټو ملکي استازي د افغانانو ترمنځ پر خپلمنځي خبرو هم ټينگار کړی او زياته کړې يې ده، چې ناټو په ښکاره توگه د دې پلوي کوي چې د مېز تر شا د افغانستان د راتلونکې په اړه پرېکړه يوازې د افغانانو کار دی.

نوموړي زياته کړې: «له افغانانو مې هدف ټول افغان وگړي دي. مدني فعالان، ښځې، ځوانان، سياسي څېرې او طالبان بايد سره کېني او خپلې ستونزې هوارې کړي».

# په قطر کې د امريکا او طالبانو ناسته د اپرېل په ۲۸مه ترسره کېږي



د افغان سولې لپاره د امريکا ځانگړي استازي زلمي خليلزاد د سيمې هېوادونو او افغانستان ته د خپل سفر تازه پړاو پيل کړی او ټاکل شوې، چې نوموړی د کابل ترڅنگ، اسلام اباد، برېټانيا، مسکو، هند او قطر ته هم سفر وکړي.

په قطر کې له طالبانو سره د نوموړي ليدنه د روانې مياشتې په ۲۸ مه پلان شوې او له دې ليدنې دوې ورځې وروسته به د طالبانو او امريکا ترمنځ بل پړاو رسمي مذاکرات پيل شي. يوې سرچينې مسير ورځپاڼې ته ويلي، ښايي د امريکا او طالبانو ترمنځ دغه خبرې اترې پنځه ورځې دوام وکړي اوطالبان به هڅه وکړي، چې په دې ناسته کې له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو د وتلو موضوع نهايي کړي.

په ورته مهال کې زلمي خليلزاد، چې د افغانستان په گډون يې ځينو هېوادونو ته خپل تازه سفر پيل کړی، ويلي چې دا ځل به د سولې په برخه کې د نړيوال ملاتړ ترلاسه کولو لپاره هڅه وکړي.

نوموړي ويلي: «امريکا د افغان سولې په هدف خپلو هڅو ته دوام ورکوي. زه به هڅه وکړم چې په دې پړاو کې د سولې په برخه کې د نړيوالې ټولنې ملاتړ ترلاسه او افغان لوري د سولې پروسه کې همکارۍ ته وهڅوم، د سولې په برخه کې د يوې مانع رامنځته کېدل په دې مانا نه دي، چې له خپلو هڅو لاس په سر شو».

طالبانو ته نږدې کسان وايي، په قطر کې جوړېدونکې بين الافغاني ناسته لغوه شوې نه ده او ښايي د امريکا او طالب استازو ترمنځ له ناستې وروسته دغه کنفرانس ترسره شي.

د سياسي چارو شنونکي قلم الدين ويلي: «د بعضې تخنيکي عوارضو په وجه د قطر ناسته وځنډېدله، لغوه شوې نه ده، مذاکرات به جريان ولري او په نږدې راتلونکي کې به دغه ناسته بېرته دايره شي».

که څه هم افغان حکومت د قطر کنفرانس د نه ترسره کېدو پړه د قطر پر حکومت اچولې وه، خو طالبانو ويلي، حکومت هڅه کوله چې پر دې ناسته کنټرول ولري او په خپله گټه يې را وڅرخوي.

مسير ورځپاڼه
مسوول مدير: اسدالله وحيدي
مرستيال: شفيق اميرزی
اېډېټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي
ليکوالان: اېمل خان، نذير احمد سهار
او شفيق همدرد
خبريالان: حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
گرافيک او ډيزاين: ارمان
چاپخونه: وايگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer
New Vision, New Journey
Daily




المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.



چهارشنبه د ۱۳۹۸ د غويي ځلورمه | د ۲۰۱۹ د اپریل ۲٤مه | دویم کال | ۳٦۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily



| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۱۹ | ۱٤ | ۳۱ | ۱۲ | ۲۸ | ۲٥ |
| ۱۰ | ٦ | ۱۳ | ۹ | ۱۹ | ۱٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:٤۲ | لمر ختل ۰٥:۱۳ | ماسپښین ۱۱:٥۲ | مازیګر ۰۳:۳٤ | ماښام ۰٦:۳۲ | ماخوستن ۰۸:۰۳

## نړۍ




## په سریلانکا کې د وروستیو بریدونو د قربانیانو شمېر ۳۱۰ کسانو ته رسېدلی دی



په سریلانکا کې په وروستیو خونړیو چاودنو کې د وژل شوو کسانو شمېر ۳۱۰ ته لوړ شوی دی.

د دغه هېواد پولیسو ویلي چې ۵۰۰ تنه نور زخمیان دي او ښایي د مړو شمېر نور هم لوړ شي.

دا په داسې حال کې ده چې د یکشنبې په ورځ د دغه هېواد په پلازمېنه کولمبو کې د عیسویانو د اختر نمانځنې پر مراسمو چې په هوټلونو او کلیساوو کې ترسره کېدل، نهه چاودنې وشوې چې ځینې یې ځانوژونکې وې.

د سریلانکا پولیسو ویلي چې سلګونه زخمیان لا هم په روغتونونو کې بستر دي، چې د ځینو روغتیایي وضعیت یې لا هم د اندېښنې وړ دی.


پولیسو ویلي چې د دغو بریدونو په تړاو یې تر اوسه ۴۰ مشکوک کسان نیولي دي. په سریلانکا کې تېره ورځ د قربانیانو د درناوي لپاره ملي ماتم اعلان شوی و، چې د هغه هېواد ټول ولس د دریو دقیقو لپاره چوپتیا غوره کړې وه.

که څه هم د دغو بریدونو مسوولیت په رسمي توګه کومې ډلې نه دی منلی، خو په سریلانکا کې بېړنی حالت اعلان شوی دی.

د دغه هېواد د جمهوري ریاست ویاند، راجیتا سیناراتني ویلي چې بریدونه د افراطي اسلامپالو یوې ډلې چې «جماعه‌التوحید الوطنیه» نومېږي، کړي دي.

د یادونې ده چې سریلانکا ۲۲ میلیونه نفوس لري، چې اکثریت یې د بودایي دین پیروان دي او یوازې ۱۲ سلنه یې مسلمانان، مسیحیان او هندوان دي.

## د روسیې او شمالي کوریا مشران به ډېر ژر په ولادي واستوک ښار کې سره وګوري



د شمالي کوریا دولتي رسنیو ویلي، چې د دغه هېواد مشر کیم جونګ اون به ډېر ژر روسیې ته ولاړ شي.

د دغه هېواد د دولتي خبري اژانس په خبره، کیم د روسیې د ولسمشر په بلنه هغه هېواد ته ځي. دغه خبري اژانس ویلي چې کیم به په نږدې وخت کې روسیې ته ولاړ شي، خو د نوموړي د سفر په اړه یې ډېر جزیات نه دي ورکړي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې کرېملین ویلي وو، چې د شمالي کوریا د رژیم مشر به د اپرېل میاشتې په دویمه نیمایي کې له جمهور رییس ولادیمیر پوتین سره د خبرو لپاره روسیې ته ورشي.

روسي ورځپاڼې کومېر سانټ ویلي، چې پوتین او کیم جونګ اون به د اپریل په ۲۵مه، په ولادي واستوک ښار کې سره وګوري.

ورځپاڼې د دغه هېواد د دوو سرچینو په حواله چې د دې کتنې لپاره تیارې نیسي، دا خبر خپور کړی دی.

روسیې ته د کیم دغه سفر داسې مهال دی، چې تر دې وړاندې د هغه او د امریکا د متحده ایالتونو د ولسمشر ټرمپ تر منځ له اټومي وسلو د کوریا ټاپو د پاکولو او په بدل کې یې پر شمالي کوریا د بندیزونو د لرې کولو لپاره دوه ځلې ناستې شوې، خو له کومې نتیجې پرته پای ته رسېدلې دي.

## رئیس‌جمهور غني:
## شرایط برای برقراری صلح در کشور فراهم شده است



رئیس‌جمهور اشرف غنی می‌گوید که برای آوردن صلح به کشور شرایط ملی، منطقوی، بین‌المللی و اسلامی فراهم شده و محدودیت‌های که در گذشته فراراه این روند وجود داشتند، برداشته شده‌اند.

رئیس‌جمهور دیروز در دیدارش از تالار لویه جرگه گفته است که ما به حیث یک ملت واحد و منسجم، همیشه مسایل بزرگ خود را از طریق جرگه‌ها و مشوره حل نموده‌ایم و این راه را ادامه می‌دهیم.

رئیس‌جمهور گفته است، لویه جرگه مسؤلیت دارد تا افکار و نظریات مردم و اشتراک کننده‌گان جرگه را به یک بحث منظم و منسجم در باره صلح مبدل سازد.

رئیس‌جمهور گفته است: «برای صلح شرایط ملی، منطقوی، اسلامی و بین المللی فراهم شده و محدودیت‌های موجود در این عرصه از میان رفته است».

رئیس‌جمهور در ادامه افزوده است که هیچ کسی نمی‌تواند جرگه و اظهاراتی که از سوی اشتراک کننده‌گان جرگه بیان می‌شوند، را سانسور کنند و نماینده‌گان مردم می‌توانند نظریات و پیشنهادات شان را در باره صلح ابراز نمایند و حدود روند صلح را مشخص سازند.


وی گفته است: «این مربوط لویه جرگه مشورتی و نماینده‌گان مردم است که حدود پروسهٔ صلح را چگونه ترسیم می‌نمایند».

به گفته وی، در گذشته صلح برای مردم یک رویا بود و هیچ کسی فکر نمی‌کرد که روزی شاهد بحث‌های جدی پیرامون صلح باشد.

به گفته او: «صلح یک رویا بود که بعضی اوقات از آن یاد می‌گردید، اما احساس نمی‌شد که آمدنی است و ما آنرا در زندگی مشاهده می‌کنیم. از دو سال گذشته بدین‌سو صلح از حاشیه به متن آمده است و هر افغان در خصوص صلح فکر می‌کند».

## ژوند


## څه ډول تمرکز وکړو؟



نابغه کسان، خپل ټول سل سلنه ذهن پر یوې موضوع باندې متمرکزوي او له هغو کړنو چې د دوی ذهن مغشوشوي، ځان ژغوري. په نړۍ کې چې تراوسه هم کوم کشفیات شوي، دا ټول د سل سلنې ذهن د تمرکز زېږنده ده. د متمرکز ذهن قدرت ته (CMP) وايي. کله مو چې ذهن متمرکز شي، په اسانۍ سره کولی شی د ځان لپاه مهالوېش جوړکړی او کومې موخې مو چې د ځان لپاره ټاکلې دي، ځان ور ورسوی. له بده مرغه نن سبا ډېر خلک، له ذهني ګډوډۍ سره مخ دي، پر له پسې ایمېلونه، د موبایل زنګونه، په ورځني ژوند کې ستونزې او دې ته ورته نور کارونه د دې لامل شوي چې هېڅوک هم نه شي کولی پر یوې موضوع باندې خپل ذهن متمرکز کړي.

د دې لپاره چې وتوانېږی ذهن مو پر یوې موضوع باندې متمرکز کړی، څو کارونه باید تر سره کړئ. لومړی دا چې وخت ته پاملرنه وکړئ، څو وکړای شی له هر ډول فکري بوختیا څخه پرته کار تر سره کړی. هڅه وکړئ چې هره ورځ له ٦۰ تر ۹۰ دقیقو پورې د ځان لپاره داسې یو محیط برابر کړئ چې په هغې کې در سره هېڅ ډول برقي وسایل او یا داسې څه نه وي چې ستاسو ذهن ګډوډ کړي. تاسو کولی شی یوازې په همدې موده کې د خپل کار په اړه چې ډېر درته مهم دی، فکر وکړئ.

## څنګه د زړه د حملې مخنیوی وکړو؟



که څه هم چې نن سبا په ټوله نړۍ کې د زړه حمله یوه خطرناکه ناروغي بلل شوې ده، خو د ژوند د طریقې په بدلولو او خپلو خوړو کې مثبت بدلون سره د دې ناروغۍ مخنیوی امکان لري. په یوه څېړنه کې ویل شوي چې په ګټورو خوړو سره د دې ستونزې مخه نیول کېدای شي. په څېړنه کې د زړه د حملې تر ټولو ستر لامل هم په ډاګه شوی دی.

په څېړنه کې ویل شوي چې د زړه په دریو حملو کې یوه حمله یې د ناوړه یا مضرو خوړو او د ژوند غیر روغتیایي طریقې له امله وي. په دې څېړنه کې له ۵۵۰۰۰ څخه د زیاتو کسانو روغتیایي معلومات راټول شوي وو او له پایلو څخه یې څرګنده شوې چې ګټور خواړه او د ژوند کولو روغتیایي طریقه د زړه حملې په خطر کې د پام وړ کموالی راولي. په څېړنه کې همدا راز ویل شوي چې چای، کب، هوږه، مګنیزیم او ویټامین(K۲) او ځینې نور خواړه په ورځني ډول د خپلو خوړو برخه ګرځول، د زړه د ناروغیو په خطر کې د پام وړ کمی راوستلی شي. څېړونکي وايي چې چای په زیاته اندازه پولي فینول نومي مواد لري چې د وینې شېریانونو له ناروغۍ، د وینې له لوړ فشار یا د وینې غوټه کېدو او له ځینو نورو ناروغیو څخه په مخنیوي کې له اندازې زیاته مرسته کوي.